## مطبوعاتي اعلاميه

### د حزب التحرير مرکزي مطبوعاتي دفتر يو کمپاين پيل کړی، چې سرليک يې دی:

### « د خلافت له راپرځېدو يوه پېړۍ وروسته...

### اې مسلمانانو، خلافت تاسيس کړئ!»

د رجب الخير مياشت يو ځل بيا پر موږ راورسېده، چې موږ ته د خلافت د راپرځېدلو روانه غميزه را په يادوي چې تر اوسه پورې پای ته نه ده رسېدلې. تر دې دمه، مسلمانانو هغه حالت بېرته نه دی راوستلی، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم د دوی لپاره پرېښی و. وروسته له هغه چې مصطفی کمال ملعون په ۱۳۴۲ هـ.ق کال کې چې له ۱۹۲۴م کال سره سمون خوري، عثماني خلافت راوپرځاوه. په دې سره يې اسلامي امت د تراژيدۍ په لمنو کې راګير کړ، چې ټول اړخونه ورسره لاس او ګريوان دي.

سږ کال د خلافت د راپرځېدلو سل کلونه پوره کېږي، يوه پېړۍ کېږي چې اسلامي امت د خپل سپېڅلي شريعت د حکم له سيوري بې برخې دی. په حقيقت کې د دې لسو لسيزو کوم کتونکی کولای شي هغه کړاوونه وګوري چې اسلامي امت يې ګالي. ډېرې ستونزې، پر له پسې غميزې، په داسې حال کې چې اسلامي امت تر دې وړاندې هېڅکله د داسې ستونزو شاهد نه و.

په دې توګه د حزب التحرير د امير نامتو عالم، عطا بن خليل ابوالرشته تر لارښوونې لاندې د حزب التحرير مرکزي مطبوعاتي دفتر د حزب التحرير د ټولو غړو په همکارۍ په ټوله نړۍ کې يو نړيوال کمپاين پيل کړی، چې له مخې يې د اسلامي امت زامن او لورګانې له حزب سره کار کولو ته وهڅول شي، تر څو د نبوت پر منهج د دويم راشده خلافت لپاره هڅه وکړي.

په همدې توګه حزب التحرير د دغه کمپاين له لارې، په ځانګړې توګه د اسلامي امت متنفذين او د قدرت څښتنان هڅوي، دوی ته يې واجب وريادوي او له دوی څخه د نصرت (مادي ملاتړ) غوښتنه کوي، چې له حزب سره يو ځای شي او د نبوت پرمنهج د دويم راشده خلافت په رامنځ ته کولو سره د الله سبحانه و تعالی دين لوړ کړي.

د حزب التحرير مرکزي مطبوعاتي دفتر رسنيو په ځانګړې توګه د اسلامي رسنيو مسلکي کارکوونکو ته د رسنيو په چوکاټ کې بلنه ورکوي، چې د خير ملاتړ وکړي او د دغه کمپاين د فعاليتونو په پوښښ او شريکولو کې ونډه واخلي، د خلافت د بيا راستنېدلو لپاره کار وکړي، چې اسلامي امت يې هيله لري.

په همدې توګه د الله سبحانه و تعالی په نامه او نصرت سره موږ دا کمپاين پيلوو: «**د خلافت له راپرځېدو يوه پېړۍ وروسته... اې مسلمانانو! خلافت تاسيس کړئ.**» الله سبحانه و تعالی موږ سره د هغه د دين په جوړولو او د امت په لوړوالي کې مرسته کوي.

#أقيموا_الخلافة
#ReturnTheKhilafah
#YenidenHilafet
#خلافت_کو_قائم_کرو
#خلافت _ راوګرځوئ

**انجنير صلاح الدين عضاضة**